مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نور محمد غفوري

۲۰۲/۰۴/۰۹

تکنوکراسي یا تخنوکراسي

Technocracy

د تکنوکراسی لغت د یوناني ژبې د (téchne) او (kratos) له کلمو څخه اشتقاق مومي چې (téchne) د فن او مهارت او (kratos) د حکومت او حاکمیت معنا ور کوي. دا اصطلاح په اوسني مفهوم په شلمه عیسوي پیړۍ کې په ۱۹۲۰ کال کې په امریکا کې د (تکنوکرات خوځښت) لخوا رامنځته شوې ده. په دې وخت کې په شوروي اتحاد کې د اکتوبر ستر سوسیالیستي انقلاب بریالی شو، د مرکزی پلان اقتصادی سیستم رامنځته شو او دې نړیوالو بدلونونو دموکراسي له بحران سره مخامخ کړې وه.
تخنو کراسي د دولت جوړولو او اداري هغه شکل دی چې ټولې معاملې او اداري کړنې یې د علمي پرمختګونو او تخنیکي فنونو پر بنسټ ولاړې او په ټولنیزو اړیکو کې احساسي، روحي او اجتماعي پدیدو او ارزښتونو ته پام نه کوي او اهمیت نه ورکوي. انجینران، د طبیعي، تخنیکي، اقتصادي علومو پوهان تر ډیره د سیاستوالو ځای نیسي. د موخو د لاسته راوړو له پاره په انساني عقل جوړشوي پلانونه او تدبیرونه تر سیاسي او په ټولنه کې تر رواجي ارزښتونو لوړ بولي. په تکنوکراتیک نظام کې اساسي پام هدف ته د رسیدو وسایلو ته ور اوړي. په تخنوکراسی کې د سیاسي ګوندونو او ټولنیزو سازمانونو رول، د هغوی په واسطه په دموکراتیکه توګه د ولس د ارادې جوړول او د انتخاباتو په واسطه د ټولنیزو موخو د ټاکلو اهمیت کمیږي.
تکنوکراتان په دې نظر دی چې ایدیولوژیکي طرحې د حکومت د ټینګښت تضمین نه شي کولای او په پایله کې د خلکو د هوساینې غم نه شي خوړلای. په داسې حکومت کې د کابینې غړي داسې بیطرفه کسان وي چې په ګوندونو کې غړیتوب نه لري، په تخنیک بلد او د ولسمشر او نورو حکومتي واکمنانو امر او نهیي ښه اجرا کوي.
تکنوکراتان په دې نظر دي چې ټولې انساني اړتیاوې باید د تخنیک د پرمختګ په واسطه په تخنیکي میتودونو حل شي. د علم وده او پرمختګ د ټولنې اساسي غوښتنه او د ستونځو د حل یوازینی روش بولي. تخنوکراتان ټولنه د تخنیکي سیستم په څیر ګڼي او د بې حاصله (بې ګټو) انسانانو غوښتنې له نظره غورځوي. تخنوکراتانو ته د ماهرو متخصصینو ارزښت زیات دی او دا په نظر کې نه نیسي چې له علم او پوهې څخه د بې برخې کسانو په روزنه کې ټولنیز چاپیریال بنسټیز رول لوبوي او د خلکو د وروسته پاتیوالي اصلی ګناه د دوی د اوسیدو او روزنې د چاپیریال په غاړه ده. دوی د ملی شتمنیو د عادلانه ویش په اړه په ټولنه کې معمولو سیاسی بحثونو ته توجه نه کوي. دوی غواړي چې سیاسي ځواک عملاً له هغو سیاسی استازو څخه واخلي چې په دموکراتیکه توګه د ولس لخوا ټاکل شوي وي او هغه د ماهرانو څخه جوړو کړو تخصصي او د ماهرانو کمیسیونونو ته وسپاري. تخنوکراتان په عمومي توګه د ټولنې کلتوري، سیاسي او ټولنیزې پروسې یوازې د علمي او عقلاني لیدلوري څخه ګوري.
د تخنوکراسی تیوریسنان په دې نظر دي چې انجینران باید د دولت رهبري په غاړه واخلي، ځکه چې دوی تر نورو ښه د عامه هوساینې له پاره کار کولای شي، جنجال نه جوړوي، اوږده بحثونه نه کوي، کودتا نه کوي، سیاسي دلیل نه وایي او د آمر د دستور او فرمان منلو ته تر نورو ښه چمتو دي.
د تخنوکراسی نظریې د شوروي اتحاد د سوسیالیستي انقلاب او د کپیټالیسم د عمومي بحران په وخت کې ډیر پلویان لرل. داسې سیاسي میلانونه رامنځته شول چې تخنوکراسي یې د سوسیالیسم او کپیټالیسم تر منځ دریمه (د حل لاره) بلله. په تخنوکراسی کې وسایل موخې ټاکي، نه داسې چې هدفونه وسایل تعین کړي. تخنوکراتان په دې نظر دي چې هر تخنیکي پرمختګ چې د انسانانو لخوا رامنځته کیږي له ځانه سره په ټولنه کې نویې غوښتنې او ستونځې را زیږوي چې د هغو د حل له پاره بیا هم نوي تخنیکي پرمختګونه ځوابونه موندلای شي. له دې کبله د دوی له نظره،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نور په انسان باندې د انسان د سلطې او حاکمیت وخت تیر دی او دا تخنیک دی چې پر انسانانو واک او حاکمیت چلوي. په دې توګه تخنوکراتان د دیموکراتیکو بهیرونو او د شتمنیو د عادلانه ویش د موضوع څیړل ضرور نه ګڼي، سیاسي بحثونو او ګوندونو ته اهمیت نه ورکوي او وایي چې تخنیک د انسانانو او سیاستوالو لخوا د ټولنې د ارزښتونو د بدلون او پرمختګ د لوري ټاکلو ته اړتیا نه لري، ځکه چې تخنیکي پرمختګ دا کار پخپله کوي.
په شلمه پیړۍ کې د تخنوکراسۍ د سیاسي طرحو د منظم سیستم د وړاندې کولو تر مخه په مدرن حکومت کې د علمي او تخنیکي معقولیت او په اداره کې د تخنوکراتانو د رول د څرنګوالی موضوع لا ډیره د مخه مطرح وه. ځینې پوهان په دې نظر دی چې ان د افلاطون د (فیلسوفانو دولت) طرحه هم له تخنوکراسۍ سره اړیکه لري.
د تخنوکرات حکومت مسئله په دریو غوره دلایلو ولاړه ده:

لومړی دلیل یې په ټولنه او ټولنیز سیاسي سیستم کې د تخنیکرانو رول دی. دا چې سیاسي ځواک د علم او فن پر مهارتونو تکیه لري، نو انجینران او تخنوکراتان کولای شي چې د ټولنې پرمختګ او د خلکو هوساینې ته ګټور واقع شي.

دوهم دلیل یې په ټولنیزو سیاسي چارو کې د تخنیک د رول عمده بلل دی. دوی وایي چې روځ په روځ د سیاسي کړو وړو او نورماتیفي پریکړو ډګر د تخنیکي پرمختګونو په واسطه تنګیږي. تخنیک ورځ په ورځ په سیاسي پریکړو خپله اغیزه زیاتوي او دا اغیزه د انسانانو د اختیاره وزي او سوچه سیاسي پریکړې له ټولنیز ډګره ورکیږي.
او دریم افزاری دلایل دي چې د وسایلو شتون او له هغو ګټه اخیستنه پخپله هدفونه ټاکي، نه داچې د مشخصو موخو د لاسته راوړو له پاره وسیلې.
تخنوکراسي د تفکر ځانګړی ډول دی چې د کپیټالیسم د صنعتی سیستم په خدمت کې قرار لري او له نظره یې تخنیک د جامعې په ټولو اړخونو کې تولنیزو کړنو ته لوري ور کوي او د ودې سمت یې پخپله ټاکي.
علمي او تخنیکي پرمختګونه په ټولنیزو اقتصادي او سیاسي چارو ژوري مثبتې او یا منفي اغیزې کوي. علمي او تخنیکي پرمختګونه د انسانانو ډیرو غوښتنو او اړتیاوو ته ځوابونه او د ستونزو د حل لارې مومي. د علم او تخنیک اغیزې په ټولو ټولنو، سوسیالیستي او کپیټالیستي نظامونو کې خپل اغیز شیندي. لنین د شلمې پیړۍ په لومړیو کې د شوراګانو حکومت او ټول هیواد ته د برښنا رسول د سوسیالیستي نظام دوه غوره اړخونه بللي دي. یعنې چې د شوراګانو د سیاسي پریکړو تر څنګ یې د ټولنې د ودې او د خلکو په هوساینه کې تخنیک ته لوړ رول ورکړی دی.
په اوس وخت کې ډیر پوهان او اقتصادي فعالین هم په ټولنیزو کړو وړو باندې د تخنیک او تخنوکراتانو ژوره اغیزه مني او د هغوی د ډول او ودې د لوري په ټاکلو کې یې رول غوره بولي. د مثال په توګه، بیل ګیتس (Bill Gates) په دې نظر دی چې نوی معلوماتي او ارتباطي تخنیک (انټرنټ) دا قابلیت لري چې کپیټالیستي له کنترول وتلې اړیکې د خلکو تر اغیزو لاندې راولي او د «نرم کپیټالیسم» د رامنځته کیدو سبب شي.
نور پوهان په دې نظر دي چې په ټولنیزو کړو وړو او راشه درشه باندې علمي او تخنیکي پرمختګونه منفي اغیزې هم کوي او په دې اړه ډیر نظرونه او تیوري ګانې شته. داسې تیوری شته چې د علم او تخنیک چټکه وده د انسانانو شخصي آزادۍ محدودوي. د مثال په توګه د انترنټ په اوسنیو شرایطو کې د افرادو آزاده راشه درشه او کړه وړه محدود او تر کنترول او نظارت لاندې دي چې د خصوصي حریم شتون ته لویه ضربه رسوي. د علم او تخنیک یاغي پرمختګ د انسانانو د ژوند چاپیریال ته زیان رسوي، د اوسني نسل له پاره هوا ککړوي او د راتلونکو نسلونو له پاره د ځمکې پر مخ د ژوند شرایط سختوي او یا یې له منځه وړي.
په تکنوکراسۍ کې غټ منفی ټکی دادی چې تکنوکراتان عمدتا عینيـ تخنیکی لید لري او په دولتی چارو کې د انسانانو روحي او ټولنیزې برخې په نظر کې نه نیسي او یا کم اهمیت ورکوي.

نور محمد غفوری
08.04.2020

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ